# د هند فضايي ډيپلوماسي او د افغانستان ګټې

اصف حبيبي – د  جرمني د كايزرزلاوټرن پوهنتون د دوكتورا څېړونكى

د ۲۰۱۷ زېږديز كال مۍ مياشتې پر پنځمه، ماښام ۴:۴۷ بجې د هند فضايي څېړنيزې ادارې (ISRO) د GSAT-9 په نامه يوه سپوږمكۍ (سټلايټ) چې وروسته يې د جنوبي اسيا سپوږمكۍ نوم ور كړ، فضا ته وتوغوله. دا سپوږمكۍ د هند په سريهاريكوتا سيمه كې له ساټيش هاوان فضايي مركز څخه د دغه هېواد د (GSLV)په نامه د يوه فضايي راكټي سيستم پر مټ ولېږل شوه.

دا سپوږمكۍ د ۲۳۵۰ ميليونه هندي كلدارو (۳۷ ميليونه امريكايي ډالر) په قېمت جوړه شوې چې پيسې يې د هند دولت ور كړې دي. ټولې چارې يې په درېيو كلونو كې بشپړې شوې او د خدمتونو د وړاندې كولو عمر يې ټولټال ۱۲ كاله ټاكل شوی دی. دا سپوږمكۍ ۲۳۳۰ كيلو ګرامه وزن لري، ۲ كيلو واټه برېښنا ته اړتيا لري. ۱۲ Ku بانډه فريكونسي ټرانسپونډرونه لري، او له دې ۱۲ ټرانسپونډرونو هر غړي هېواد ته يو، خو افغانستان ته يې دوه وركړي. دا سپوږمكۍ به ټوله جنوبي اسيا په خپل پوښښ كې راولي او په دې سېمه كې ۱/۵ ميلياردو استوګنو انسانانو ته به په بېلابېلو برخو كې خدمتونه وړاندې كړای شي.

لومړيو وختونو كې د دې سپوږمكۍ د ځای په ځای كولو لپاره د تشيال په ختيز طول البلد سيمه كې ۴۸ درجې موقعيت په نظر كې نيول شوی و. ۴۸ درجې شرقي سيمه د افغانستان تشيالي يا فضايي حريم دی او هيڅ هېواد يا اورګان يې له خوښې پرته هلته سټلايټ ځای پر ځای كولی نه شي.

## له افغان حكومت د هند هيله

د هند حكومت څو ځله د افغانستان له مخابراتو وزارت هيله وكړه چې دا حريم د جنوبي اسيا سټلايټ ته ور كړي. ياد وزارت ورسره موافقه ونه كړه نو ځكه د هند فضايي ادارې د دې سپوږمكۍ لپاره ۲۰/۶۵ درجې موقعيت وټاكه. د هند حكومت او لومړي وزير نريندرا مودي ادعا كوي چې دا يې د سارک سازمان د ۷ هيوادونو (افغانستان، هند، بنګله دیش، بوتان، مالديف، نيپال او سريلانكا) تر منځ د مخابراتي اړيكو پراخولو، د انټرنټ پر مټ د روغتيايي خدمتونو وړاندې كولو، له طبيعي پېښو سره د مبارزې او داسې نورو اسانتياوو رامنځته كولو لپاره تشيال ته توغولې ده. پاكستان چې د سارک سازمان غړی دی په دې پروژه كې له ګډون ډډه كړې. داسې ښكاري چې نوی ډېلی غواړي دا سټلايټ د جنوبي اسيا هېوادونو تر منځ د اړيكو، همكارۍ او مرستې يوه وسيله او د بهرنۍ پاليسي د پراخولو په موخه د يوې الې په توګه وكاروي.

افغان ولسمشر محمداشرف غني او د جنوبي اسيا د نورو هېوادونو مشرانو په ګډه د يوه ويډيويي كنفرانس له لارې د دې سټلايټ پرانيستغونډه كې ګډون كړی و. ټولو مشرانو د دې سپوږمكۍ د استولو په اړه يو بل ته مباركي ور كړه او دا يې د ګډې سيمه ييزې همكارۍ په لور يو ستر ګام وباله.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سارک غړیو هیوادونو له ډلې هند یوازینی هیواد دی چې زیات شمېر سپوږمکۍ د فضا په بېلابېلو مدارونو کې د بېلابېلو موخو لپاره لري. د دې تر څنګ دا هېواد فضا ته د سپوږمکیو د استولو لپاره منظم انتقالي راکټي سیستم هم لري. هند پر دې سربېره د نورو هېوادونو لپاره هم سټلایټونه جوړوي او هم یې فضا ته لېږدوي. د بېلګې په توګه د ۲۰۱۷ کال په فبرورۍ کې هند په یوه توغندي کې د ۱۰۴ مصنوعي سپوږمکیو په استولو سره د روسیې هغه ریکارډ مات کړ، چې په ۲۰۱۴ کال یې ۳۷ مصنوعي سپوږمکۍ فضا ته استولې وې. د دې سپوږمکیو له ډلې ۹۶ د امریکا او پاتې د قزاقستان، متحده عربي اماراتو، سویس، اسراییل او نورو هېوادونو وې.



پر GLSV فضايي راکټي سیستم د جنوبي آسیا سپوږمکۍ فضا ته له استولو څخه څو ساعته مخکې لیدل کیږي. د انځور کریډېټ ISRO

په جنوبي اسیا کې له هند وروسته پاکستان دوهم هیواد دی چې فضا کې ډېر سټلایټونه لري. دې هېواد په ۱۹۹۰ کال کې د بدر-۱ په نامه سټلایټ فضا ته ولېږه، خو اوس له دې سټلایټ کار نه اخیستل کیږي. په ۲۰۰۱ کال کې یې بدر-۲ سټلایټ فضا ته وتوغاوه. په ۲۰۰۲ کال کې یې د پاکسټ - ۱ او په ۲۰۱۳ کال کې یې د پاکسټ-۱ Rپه نامه نور سټلایټونه د مخابراتي خدمتونو لپاره واستول او پر ۲۰۱۳ کال کې یې د iCUBE-1په نامه یوه سپوږمکۍ د ځمکې له کورې د انځورونو د اخیستلو لپاره واستوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هند او پاکستان د تشيالي ټيکنالوجۍ ترمنځ توپير

هندي ساينسپوهان دا وړتيا لري چې سټلايټ په خپل هېواد کې جوړ کړي. د سټلايټ د لېږدولو سيستم لري او هم يې له خپلې خاورې څخه فضا ته توغوی شي، خو پاکستان تر اوسه په دې نه دی توانېدلی، له نورو هيوادونو يې سټلايټونه په پيسو اخيستي او هم يې د هغو پر سيستمونو خپلې سپوږمکۍ فضا ته توغولې دي.

افغانستان بيا له هند او پاکستان دواړو په فضايي ټيکنالوجۍ کې شاته پاتې دی. دې هېواد د ۲۰۱۴ کال په مۍ کې لومړی ځل د افغانسټ ــ ۱ په نامه له سپوږمکۍ ګټه پورته کړه. د مخابراتو وزارت او د Eutelsat د رسمي ويبپاڼو په تاييد افغانسټ ــ ۱ په ۴۸ درجې ختيز طول البلد کې موقيعت لري. دا سټلايټ د مخابراتي خدمتونو لپاره کارېږي. پر ۲۰۰۸ کال د Eutelsat له لوري څخه فضا ته توغول شوی و او تر ۲۰۲۰ کاله يې د خدمت عمر ټاکل شوی. دا سپوږمکۍ اوس يوازې ۶ فعال ټرانسپونډرونه لري، پاتې يې د تخنيکي ستونزو له کبله شنډ دي او هم يې بريښنايي سيستم تخنيکي ستونزه لري.

له دې ستونزو سره سره، د افغانستان د مخابراتو وزارت له يادې کمپنۍ سره قرارداد لاسليک کړ چې ياد وزارت اوس هم هر کال ۴ ميليونه امريکايي ډالره نوموړې کمپنۍ ته د کلنۍ کرايې په بهانه ور کوي. زما لپاره چې په دې برخه کې کلونه کيري ځېړنه کوم او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې مې د سټلايټونو په برخه کې لسګونه تخنيکي او مسلکي قراردادونه لوستلي د پوښتنې وړ خبره ده چې ولې يې په دومره لوړ قيمت يو داسې بې کيفيته سټلايټ په کرايه کړ او بيا يې خپل تشيالي حريم ته هم را انتقال کړ.

## د جنوبي اسيا له سپوږمکۍ د هند موخې

هند د جنوبي اسيا هر هېواد ته يو خو افغانستان ته دوه ټرانسپونډرونه په ډالۍ ور کړل. له دې کار سره به له پاکستان پرته د سارک سازمان هر هېواد په دې سټلايټ کې برخه ولري او ټول به يې په ګډه کاروي. هند په دې تشيالي ډيپلوماسۍ سره وښودله چې په جنوبي اسيا کې يوه سيمه ييزه اجماع رامنځته کولی شي، خو پاکستان بيا له دې اجماع ډېره وکړه. هند د دې نيک کار تر شا خپلې شخصي ګټې هم لري.

۱: د سارک سازمان د غړيو په منځ کې هند د اقتصادي، تخنيکي او بشري قوې له پلوه خورا غني دی. د دې لپاره چې د دې سازمان پر نورو غړيو خپل اغيز وساتي يا د مشرۍ په رول کې پاتې شي، نو دا ډول کارونه کوي.

۲: زه ډاډمن يم چې د جنوبي اسيا د سټلايټ په جوړولو کې به لسګونو هندي ساينسپوهانو او انجنيرانو کار کړی وي. د دې او داسې نورو سترو پروژو تر سرول د هند د اقتصاد په پياوړتيا او خلکو ته يې د دندو په پيدا کولو کې مهم رول لوبولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳: ساینس په تجربو ولاړ علم دی، کله داسې هم پېښیږي چې ساینسپوهان څو څو ځله پر یوې موضوع څېړنې کوي، تجربې کوي خو پایله یې ناکامي وي. هغوی مجبور دي چې د حل لپاره یې نورې لارې ولټوي، بیا یې تجربه او ستونزه حل کړي. دا تجربې، څېړنې او ناکامي د ساینسپوهانو تجربې پخوي چې په ترڅ کې یې د هغه هېواد د بشري قوې په مسلکېتوب کې خورا مهم رول لوبولی شي. هندي ساینسپوهان او فضایي انجنیران به د دې سټلایټ په جوړولو او توغولو کې ډېر نوي څېزونه زده کړي او هم به نوي ساینسپوهان وروزي.

۴: هند کوښښ کوي چې په جنوبي اسیا کې د چین د هغو پراخو هڅو مخه ونیسي چې په دې وروستیو کې یې د دغې سیمې له هېوادونو سره په تخنیکي او مالي برخو کې کوي. د بېلګې په توګه، سریلانکا پر ۲۰۱۲ کال خپل لومړنی سوداګریز سټلایټ فضا ته د چین په مرسته ولېږه. پر ۲۰۱۵ کال یې بل سټلایټ هم د یوې چینایي کمپنۍ په مرسته وتوغاوه، د ۲۰۱۷ کال په اپرېل کې چین افغانستان ته وړاندیز وکړ چې د افغانستان دوهم سټلایټ کې ورسره مرسته وکړي. په جنوبي اسیا کې د چین دا هڅې هند ته د زغملو نه دي، ځکه غواړي چې په دې کار سره تر یوه برېده د چین مخه ونیسي.

۵: د جنوبي اسیا نور هېوادونه لکه مالدیف، بنګلدیش، بوتان او نیپال لا تر اوسه په تشیال کې سپوږمکۍ نه لري. دې څلورو هېوادونو ته د هند دا ډالۍ یوه تشویقي بڼه هم درلودلی شي، چې له هغوی سره د خپلو راتلونکو سپوږمکیو په برخه کې سوداګري وکړي. هندا دا تخنیکي وړتیا لري چې د دې هېوادونو لپاره سپوږمکۍ وتوغوي او په دې کار سره خپل نړیوال فضایي تجارت پیاوړی کړي.

## د افغانستان ګټه او تاوان


د افغانستان لپاره دا یو ښه زیری دی چې تشیال کې اضافي او له میاشتنۍ یا کلنۍ کرایې پرته دوه ټرانسپونډرونه ولري او له هغې لارې خپل مخابراتي اطلاعات له نورې نړۍ سره تبادله کړي. اوسمهال افغانستان ټولټال اته ټرانسپونډرونه لري چې شپږ یې د افغانسټ-۱ او دوه یې د هند ډالۍ دي.

ولسمشر غني د دې سپوږمکۍ توغول د سیمه ییزې همکارۍ لپاره مهم بللي دي. د افغانستان د مخابراتو وزارت هم ظاهرا خوښ ښکاري او وایي چې د جنوبي اسیا په سپوږمکۍ کې افغانستان د هند په مرسته له نورو غړیو هېوادونو ډېره ونډه لري.له دغې سپوږمکۍ به د مخابراتي اړیکو، کرنې، ځمکپوهنې او نورو برخو کې ګټه واخلي، خو زما په اند پر دې ګټو سربېره باید دا هېواد خپلو نورو سترو ګټو ته هم پام وکړي.

۱: افغان حکومت او په ځانګړي ډول د مخابراتو وزارت باید دا معلومه کړي چې هغه اطلاعات چې د جنوبي اسیا سپوږمکۍ له لارې تبادله کېږي د افغانستان ملي امنیت ته کوم زیان نه شي اړولی.د مخابراتو وزارت باید پرلپسې د دې چینلونو له امنیت ډاډ تر لاسه کړي او ان ټول واک یې په خپل لاس کې واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲: پر ۲۰۲۰ کال افغانستان دوهم سټلایټ ته اړتیا لري، چې د افغانسټ ـ ۱ پر ځای یې تشیال ته وتوغوي. هند او چین مخکې له مخکې دې هېواد ته د سټلایټ په برخه کې د سوداګرۍ زرغون څراغ ور کړی. افغانستان ته پکار ده چې هیڅکله هم د کوچنیو ګټو لپاره خپلې سترې ګټې له لاسه ور نه کړي او داسې تصمیم ونیسي چې د دې هېواد ملي امنیت ته پکې خطر نه وي او نه هم له کوم هېواد یا کمپنۍ سره د افغانسټ ـ ۱ په څېر قرارداد لاسلیک کړي.



له ځمکې څخه د جنوبي آسیا سپوږمکۍ د توغېدلو په حال کې. د انځور کریډېټ ISRO

## د پاکستان انکار او پر سارک سازمان یې اغېز

پاکستان په دې پروژه کې لومړی له ګډون ډډه وکړه خو وروسته یې هند ته په دې برخه کې د تخنیکي او مالي مرستې وړاندیز وکړ چې د هند له لوري رد شو او د وخت ضایعه یې وباله. زما په اند د دې مرستې تر شا یو راز پروت و او هغه دا چې، پاکستان د فضایي ټیکنالوجۍ په تخنیکي او ساینسي برخو کې په مراتبو له هند کمزوری دی. پاکستان غوښتل چې د مرستې په پلمه هند ته خپل ساینسپوهان واستوي چې ظاهراً هلته له هندي ساینسپوهانو سره مرسته وکړي. خو په دې کار یې تر ډېره بریده هدف خپلو ساینسپوهانو ته د داسې زمینې برابرول و له هندي پوهانو نوي مېتوډونه زده کړي او هم یې له ټکنالوجۍ او سیستم سره بلد شي او اړین معلومات تر لاسه کړي. پاکستان د لاندې دلایلو پر بنسټ هم له دې پروژې انکار وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱: لسیزې کېږي چې هند او پاکستان خپلمنځي ناسالم اړیکي لري. د دوی اړیکي ډېر وخت ان سپورټ او ساینس هم اغېزمنوي. زما په نظر د جنوبي اسیا سپوږمکۍ په اړه د پاکستان تصمیم هم تر یوه حده له دغو اړیکو اغېزمن دي. که پاکستان په دې پروژه کې برخه لرلی، نو د جنوبۍ اسیا سپوږمکۍ به د سارک سپوږمکۍ په نامه نومول شوې وی.

۲: هند ټولو هغو اطلاعاتو ته چې د دغه سټلایټ له لارې تیریږي لاسرسی لرلی شي. لا تراوسه معلومه نه ده چې هند به څومره د دغو اطلاعات له کنټرول سره علاقه ولري، خو پاکستان ته دا د منلو نه ده چې خپل اطلاعات د هند په لاس کې ور کړي.

۳: پاکستان فضا کې ډېر سټلایټونه لري چې له نورو هېوادونو یې اخیستي دي. زما په نظر د یوه ټرانسپوونډر لپاره پاکستان نه غوښتل چې هند د سارک سازمان پر غړیو خپل نفوذ زیات کړي.

د پورتنیو اندېښنو په نظر کې نیولو سره پاکستان ته بیا هم پکار نه وه چې له سیمه ییزې اجماع یې ځان ایستلی وی. دا یو ټرانسپونډر چې هند غوښتل پاکستان ته یې ورکړي، د داسې اطلاعاتو د لېږلو لپاره کارېدلی شو چې امنیت یې دومره مهم نه وي لکه د ټلویزیون خپرونې، د هوا حالات او داسې نور. په دې کار سره به پاکستان د سارک هېوادونو تر منځ دا اجماع نوره هم پیاوړې کړې وی ترڅو د سیمې هېوادونو په خپل منځ کې په ډېرو نورو راتلونکیو فضایي پروژو کار کړی وی.

## افغان حکومت ته سپارښتنې

هیڅ یو هېواد نه دایمي دوست لري او نه هم دایمي دښمن؛ بلکې دایمي ملي او نړیوالې ګټې لري. افغانستان ته په داسې وخت کې پکار ده چې یوازې خپلې ګټې په پام کې ونیسي او هیڅکله هم د نورو هېوادونو له تبلیغ او تشویق اغېزمن نه شي. د جنوبي اسیا سپوږمکۍ او د نورو راتلونکیو تشیالي چارو په اړه خپلې سپارښتنې په ټوله کې افغان حکومت او په ځانګړې ډول مخابراتو وزارت ته په لاندې ډول لندوم.

۱: د مخابراتو وزارت باید ډاډمن شي، هغه اطلاعات چې د جنوبي اسیا له سپوږمکۍ تېریږي دریېم لوری ورته لاسرسی ونه لري او نه یې کنټرول کړی شي. افغان حکومت باید هند ته قناعت ور کړي چې د ښو اړیکو په پار یاد اطلاعات خوندي وساتل شي یا هم د دې ټرانسپونډرونو ټول واک افغانستان ته وسپاري.

۲: د دې لپاره چې د امنیت هر ډول اندېښنه له منځه یووړل شي نو مناسبه به وي چې د مخابراتو وزارت دا دوه ټرانسپونډرونه د داسې اطلاعاتو د لېږلو لپاره وکاروي چې د امنیت ساتل یې دومره مهم نه وي. د بېلګې په توګه د یو څو ټلویزیوني چینلونو ژوندي نشرات پرې ولېږي، او داسې نور.

۳: پر ۲۰۲۰ کال افغانسټ ــ ۱ سپوږمکۍ له منځه ځي او نور خدمتونه نشي وړاندې کولی. په داسې حالاتو کې هر دولت او کمپنۍ باید حد اقل درې کاله مخکې کوښښ وکړي چې بدیل یې ولټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان حکومت لا تراوسه د کوم نهايي بدیل په اړه تصمیم نه دی نیولی. د مخابراتو وزارت باید ژر تر ژره له ډېرو هېوادونو او کمپینو سره په دې برخه کې خبرې پیل کړي.

:۴ د افغانستان د دوهم سټلایټ په برخه کې باید دا هېواد هیڅکله هم د چین او هند له تبلیغاتو او تشویق اغېزمن نه شي. داسې یو تصمیم باید ونیول شي چې هغه کې دې هېواد ته ډېره ګټه ورسیږي.

:۵ د ۲۰۲۰ کال لپاره د نوي سټلایټ په توغولو کې افغانستان ته دوه انتخابه پراته دي. لومړی دا چې له یوه هېواد سره په شراکت سپوږمکۍ وتوغوي، چې سپوږمۍ او مصرف یې ټول د هغه هېواد او فضايي حریم یې د افغانستان وي. دوهم انتخاب دا چې افغانستان له یوه هېواد سپوږمکۍ واخلي او فضا ته یې واستوي. دا هر انتخاب خپلې ګټې او تاوان لري او تحلیل یې د دې لیکنې له وسه پوره نه دی، خو بیا هم باید وویل شي چې د ساینسي او علمي تحلیلونه په پایله کې باید له دغو دوو تصمیمونو یو غوره شي.

:۶ افغانستان لا تراوسه د تشیال څېړنو اداره نه لري. دې هېواد ته پکار ده چې ژر تر ژره په دې برخه کې یو څېړنیز مرکز جوړ کړي چې په فضايي مسایلو کې د افغانستان په اړه څېړنې وکړي او د هغو څېړنو په رڼا کې خپل تصمیمونه ونیسي.

:۷ افغانستان ته پکار ده چې د اوس لپاره یوازې د جنوبي اسیا او افغانسټ ـ ۱ په سپوږمکیو قناعت ونه کړي. کوښښ باید وشي چې له بېلابېلو هېوادونو سره د مخابراتو په بېلابېلو برخو کې د همکارۍ او سوداګرۍ تړونونه لاسلیک او عملا کار پرې وکړي.

اصف حبیبي د اروپايي ټولنې د ساینس او ټکنالوجۍ په یوه څېړنیز پروګرام کې د مخابراتو پر 5 Gڅېړنه کوي او هممهال د جرمني د کایزر زلاوټرن تخنیکي پوهنتون کې پر دوکتورا بوخت دی. نوموړي د لیسانس زدکړې په کابل پوهنتون او ماسټري یې د چک جمهوریت د ساینسي علومو پوهنتون کې کړې ده.

8مې 2017 ـ 18 غویی 1396

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**